CCAS de RENNES

**د شخصي معلوماتو کارولو لپاره اجازه/ یا فرمان**

زه، لاندې لاسلیک شوی، ښاغلی/آغلی ............ د ټولنیزو حقونو مراجعو ته (حقوقی سوسیالانو ته)، د ایغ اس آ RSA ټولنیز مرجع یا سوسیال، یا هم او د غین د CCAS د ادغام او خلکو مرستې ریاست (DIAP) د بانکي شاملولو راجع کولو لپاره، چې د DIAP رییس، ویرجیني اوبیغژی Virginie Auberger استازیتوب کوي، د لاسرسي اجازه ورکوم چې زما په نوم او زما په شتون کې، په انټرنیټ کې زما طرزالعملونه یا اداری کارونه، د مدني قانون د 1984 مادو او ترتیب سره سم ترسره کړی.

## 1. د شخص په ځای او د هغوی په شتون کې ګامونه اخیستل

د CCAS اجنټ یا کارمند ته واک ورکړل شوی چې د خپل ماموریت په حدودو کې د لاندې سیستمونو سره تړلي پروسیجرونه ترسره کړي:

- (RSA) ایغ اس آ (غوښتنه، ساتنه، ملاتړ)
- د ټرانسپورټ نرخونه کم (لکه تخفیف)
- بهر بیرون در مرکز نه، تلل
- د زړو او معلولیت لرونکو خلکو لپاره قانوني مرستې،
- کوچني کریډیټ،
- کوچني پس انداز
- د CCAS څخه اختیاري مرسته.

## 2. خوندي ذخیره کول او د شخصي معلوماتو کارول

د CCAS اجنټ یا کارمند یوازې هغه معلومات راټولوي، ثبتوي او کاروي چې پورته نومول شوي پروسیجرونو لپاره اړین وي. کارن نومونه یا مشخصات او پاسورډونه (رمزونه) ذخیره یا سیو شوي ندي.
د CCAS اجنټ یا کارمند تازه کوي بیا د شخص ټول معلومات له مینځه وړي کله چې نور د پورته ذکر شوي طرزالعملونو او پروسجرونو ترسره کولو ته اړتیا نه وي.

## 3. معلومات او روڼتیا (شفافیت)

د CCAS اجنټ یا کارمند د معلوماتو د ساتنې د عمومي مقرراتو (GDPR) له 13 څخه تر 22 مادو پورې اړوند د حقونو په اړه اړوند کس ته خبر ورکوي، او په ځانګړې توګه په پته یا DIAP ته د ساده لیکلو له لارې په هر وخت کې د دوی *رضایت بیرته اخیستلو* امکان د بریښنالیک له لارې چې د پاڼې په پای کې پته مشخص شوی. [1]
د CCAS اجنټ داډ ورکوي چې معلومات د GDPR د 12 مادې د احکامو سره سم په لنډ، شفاف او د پوهیدو وړ ډول لیږدول شوي.
د CCAS اجنټ اړوند کس ته خبر ورکوي چې دنده یا اجازه٧ وړیا ترسره کیږي.

## 4. محرمیت

د CCAS اجنټ د محرمیت مکلفیت تابع دی: هغه نورو خلکو ته معلومات نه لیږدوي.

## 5. د ماموریت یا فرمان موده

دا فرمان/اجازه د 2 کلونو لپاره منل کیږي. اړوند شخص کولی شي پریکړه وکړي چې د پای نیټې څخه دمخه د 3 مادې سره سم د دندې پای ته ورسوي.

[1] د آغلی رییس پام ته د ښاروالی د ټولنیز عمل مرکز، د خلکو سره د انسجام او مرستې ریاست

A l'attention de Madame la Directrice, Centre Communal d'Action Sociale, Direction Insertion et Aides à la Population, 1 rue du Griffon, 35000 RENNES, diap@ccasrennes.fr

## 6. مسؤلیتونه

د DIAP اجنټان یا کارمندان پروسیجرونه د پورته ذکر شوي طرزالعملونو او د اړوند کس د غوښتنو سره سم ترسره کوي.

د ګوندونو لاسلیک :

***اړوند کس*** ،په غین کې ترسره شوی..................................، په نیټه،.....................................................

***ورجینې اوبیغژی***Virginie Auberger ، د خلکو سره د انسجام او مرستې رییس(DIAP)

په غین کې ترسره شوی..................................، په نیټه،..................................................................